د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

هفته‌نامه
آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او ټـولنیـــزو مسایلـو پـه بـرخه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصــادي معاونیت خــبري اوونیزه
شنبه، د رمضان المبارک ۲۰ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۵۱



# سرلیکنه



د ترانزیټ له پاره د لویو لارو، سړکونو، د رېل پټلیو غځولو، هوایي کرښو او معیاري هوایي ډګرونو جوړول اړین دي، ځکه ددې ترانزیتي او مواصلاتي زېربناوو له رغونې پرته د یوه هېواد ښیرازي او پرمختیا امکان نه لري. اسلامي امارت پورتنیو ټکو ته په پاملرنې سره غواړي د نورو زېربناوو ترڅنګ له رغول شویو رېل پټلیو ګټه پورته کړي او نوې هغه جوړې کړي. دوی پر دې باور دي چې افغانستان په وچه کې ایسار هېواد دی او د ځمکنیو لارو او رېل پټلۍ پرته نه شي کولای له ګاونډیو او په ټوله کې له نړۍ سره خپلې سوداګریزې اړیکې ټینګې او راکړه ورکړه ترسره کړي. د رېل پټلۍ له لارې به لومړۍ له ګاونډیو او بیا د نړۍ له نورو هېوادونو سره ونښلول شي.

پورتنیو موضوعاتو ته په کتو سره د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د خواف– هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې د دوهمې برخې جوړولو قرارداد د ۱۴۰۳ لمریز کال د وري میاشتې په ۹مه نېټه د افغانستان اوسپنې پټلۍ ادارې او ګاما ګروپ شرکت ترمنځ لاسلیک شو.

د خواف– هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې دوهمه برخه ۴۷ کیلومتره اوږدوالی لري، چې ټول لګښت یې ۵۳ میلیون ډالرو ته رسېږي. ټاکل شوې چې د دغه پروژې چارې به د شاوخوا دوه کلونو په جریان کې په معیاري ډول بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دا د خواف- هرات اوسپنې پټلۍ لویې پروژې وروستۍ برخه ده، چې له رباط پریان څخه پیل د هرات نړیوال هوایي ډګر او صنعتي ښارګوټي ته رسیږي. د دغه برخې په بشپړېدو سره به د خواف- هرات د سیمه‌ییز اتصال پروژه؛ افغانستان د ایران له مهمو سمندري بندرونو سره وصل کړي او د ترکیې هېواد د اوسپنې پټلۍ شبکې له لارې به اروپا ته لار ومومي. پر دې سربېره به د افغانستان له خاورې په تېرېدو سره د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د سوداګریزې راکړې ورکړې د کچې لوړېدو لپاره هم زمینه برابره کړي.

د خواف- هرات رېل پټلۍ بله ګټه داده چې افغانستان به له دې لارې د سیمې د یو شمېر هېوادونو له ترانسپورټي دهلیزونو سره ونښلي او وبه کولای شي د بندیزونو باوجود خپله سوداګري پراخه کړي. بله دا چې ددې رېل پټلۍ له لارې به افغان سوداګر په اسانۍ خپل سوداګریز توکي د منځنۍ اسیا هېوادونو له لارې لومړۍ چین او هند او بیا نړیوالو مارکیټونو ته په ټیټه بیه ورسوي. دغه راز یاده رېل پټلۍ سره له دې چې سوداګریز توکي په اسانۍ لیږدوي، د خلکو له پاره د کار زمینه هم برابروي چې ورسره به د خلکو اقتصادي وضعیت ښه والی ومومي. د خواف- هرات د رېل پټلۍ بله ګټه داده چې هېواد به په یوه اقتصادي څلور لارې بدل کړي او له بل لوري به د لویو لارو د ویجاړېدو مخه هم ونیسي.  خواف- هرات رېل پټلۍ یوه مهمه پروژه ده او په بشپړېدو به یې افغانستان د سوداګرۍ په برخه کې پوره پرمختګ وکړي. له دې سره به له یوه لوري خلکو ته د کار زمینه برابره شي او له بل لوري به ملي عواید لوړ او اقتصادي وده به رامنځته شي.

## د خواف – هرات اوســـپنې پټلۍ د څلورمې قطعـــې د دوهمې برخې جوړولو قرارداد لاسلیک شو


۲ مه صفحه

## قرارداد چهار پروژه میان وزارت های مالیه، آب و انرژی، د افغانستان برشنا شرکت و سکتور خصوصی به امضاء رسید


۳ مه صفحه

## په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د افغانستان بانکي وضعیت ته کتنه



۴ مه صفحه

# د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې د دوهمې برخې جوړولو قرارداد لاسلیک شو



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د خواف– هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې د دوهمې برخې جوړولو قرارداد د ۱۴۰۳ لمریز کال د وري میاشتې په ۹مه نېټه د افغانستان اوسپنې پټلۍ اداري او ګاما ګروپ شرکت ترمنځ لاسلیک شو.

د خواف– هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې دوهمه برخه ۴۷ کیلومتره اوږدوالی لري، چې ټول لګښت یې ۵۳ میلیون ډالرو ته رسېږي. ټاکل شوې چې د دغه پروژې چارې به د شاوخوا دوه کلونو په جریان کې په معیاري ډول بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

دا د خواف- هرات اوسپنې پټلۍ لویې پروژې وروستی برخه ده، چې له رباط پریان څخه پیل د هرات نړیوال هوایي ډګر او صنعتي ښارګوټي ته رسیږي. د دغه برخې په بشپړېدو سره به د خواف- هرات د سیمه‌ییز اتصال پروژه؛ افغانستان د ایران له مهمو سمندري بندرونو سره وصل کړي او د ترکیې هېواد د اوسپنې پټلۍ شبکې له لارې به اروپا ته لار ومومي. پر دې سربېره به د افغانستان له خاورې په تېرېدو سره د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د سوداګریزې راکړې ورکړې د کچې لوړېدو لپاره هم زمینه برابره کړي.

د یادونې وړ ده چې د دغه پروژې په جوړېدو سره به په فراه، نیمروز، هلمند او کندهار ولایتونو کې هم د اوسپنې پټلۍ شبکې غځولو ته زمینه برابره شي.



# فاز دوم و سوم فابریکه ذوب آهن ملت ستیل افتتاح گردید




فاز دوم سیخ گول و فاز سوم تولید آهن گادر فابریکه ذوب آهن ملت ستیل به تاریخ پنج ماه حمل سال ۱۴۰۳طی مراسم خاص از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء افتتاح گردیدند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء افتتاح این فاز ها و آغاز فعالیت آنرا در پیشرفت و ترقی سکتور صنعت مهم خوانده، افزود که با پیشرفت سکتور صنعت، توسعه اقتصادی در کشور به میان خواهد آمد. محترم ملا صاحب به مسئولین فابریکه های ذوب آهن اطمینان داد که امارت اسلامی برای تامین برق دائمی فابریکه های صنعتی تلاش می کند و به همین منظور امروز علاوه بر پروژه های دیگر، جهت افزایش سطح تولید برق داخلی قرارداد تولید حدود ۲۳ میگاوات برق را در ولسوالی سروبی کابل با سکتور خصوصی به امضاء رسید.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء به مسئولین فابریکه های ذوب آهن خاطر نشان ساخت که جهت تامین مواد خام در داخل کشور، امارت اسلامی قرار داد چهار بلاک معدن آهن هرات را از طریق داوطلبی به شرکت های داخلی و خارجی امضاء نموده تا در آینده فابریکه های ذوب آهن با کمبود مواد خام رو به رو نشوند.

محترم ملا صاحب در مورد حمایت از سکتور صنعت گفت، که امارت اسلامی تعرفه را بالای آن عده از تولیدات بلند نموده که در داخل کشور تولید و نیاز های هموطنان را تامین میکنند. وی از تمامی ادارات دولتی و شهروندان خواست که جهت تامین نیاز خود از تولیدات داخلی استفاده کنند، حتی اگر کیفیت آن از ۱۰ تا ۱۵ درصد کمتر از تولیدات خارجی باشد.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در پایان سخنان خود از همه صنعت کاران و سرمایه گذاران خواست تا در سکتور های مهمی که امروز ما شاهد افتتاح آن هستیم سرمایه گذاری کنند و از این طریق مسئولیت خود را در پیشرفت و خودکفایی کشور ایفاء نمایند.

در فاز های دوم و سوم فابریکه ذوب آهن ملت ستیل که روزانه ظرفیت تولید صدها تن سیخ گول و اهن گادر را دارند ، برای ۲۰۰۰ از هموطنان ما فرصت‌های کاری نیز مهیا می سازد.




# قرارداد چهار پروژه میان وزارت های مالیه ، آب و انرژی ، د افغانستان برشنا شرکت و سکتور خصوصی به امضاء رسید

در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء، بتاریخ پنجم ماه حمل سال جاری خورشیدی، میان وزارت های مالیه، آب و انرژی، د افغانستان برشنا شرکت و سکتور خصوصی به ارزش حدود چهار میلیارد افغانی قرارداد چهار پروژه تولید برق و ساختمانی به امضاء رسید.


این پروژه ها شامل تولید حدود ۲۳ میگاوات برق آفتابی در ولسوالی سروبی ولایت کابل، اعمار دو سب ستیشن در ولایت هرات و تمدید لین برق ۲۲۰ کیلو ولت در این ولایت، مارکیت تجارتی در منطقه کوتی سنگی شهر کابل و احداث مرکز تجارتی و اپارتمان های مسکونی در ولایت هلمند می باشد. در این پروژه ها حدود ۴ میلیارد افغانی سرمایه گذاری می شود که با عملی شدن آن عواید ملی کشور افزایش می یابد و برای صد ها شهروند فرصت کاری ایجاد خواهد شد.

قابل ذکر است که این پروژه های سرمایه گذاری با سعی و تلاش کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی و ادارات مربوطه عملی شده است.




## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۷۱,۸۰؋ | ۷۱,۸۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۴۸؋ | ۲۴۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۰؋ | ۱,۳۰؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۷,۴۳؋ | ۷۷,۴۹؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰.۷۸؋ | ۰.۷۸؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۶۱؋ | ۸۶۱؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹۰,۶۵؋ | ۹۰,۷۱؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۹,۱۴؋ | ۱۹,۱۶؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۵۵؋ | ۱۹,۵۷؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۹۳؋ | ۹,۹۴؋ |



# په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د افغانستان بانکي وضعيت ته کتنه

ليکوال: امان‌الله حنيفي




## سريزه

د ۲۰۲۱ ميلادي کال د اګست مياشتې پر ۱۵مه د افغانستان په تاريخ کې د يو نوي څپرکي د پرانيستې ورځ ده. په دغه ورځ افغانستان يو لوی سياسي بدلون تجربه کړ. د سياسي بدلون په توګه دې نوې تجربې د هېواد لپاره ډېرې پايلې له ځان سره لرلې چې هېڅوک ترې بې اغېزې پاتې نه شول. له ډېرو اغېزمن شوو برخو څخه يو هم اقتصادي او بانکي نظام و. پر دغه نظام د امريکا او نړيوالو له لوري د محدوديتونو لګول، د بهرنيو مرستو ځنډېدل، د سلګونو پراختيايي پروژو ځنډ او يا هم فسخه، د افغانانو ملي شتمنې کنګل کول، له افغانستان څخه د ډالرو قاچاق، پر بانکونو د عامو خلکو هجوم ور وړل او د پيسو ايستنه، د نرخونو لوړېدل او د بهرنيو اسعارو په مقابل کې د افغانۍ ارزښت له لاسه ورکول هغه ستونزې وې، چې په افغانستان کې د سياسي بدلون په رامنځته کېدو سره بانکي سکتور او نورو برخو ته ورپېښې شوې.

خو له دې ټولو ستونزو سره سره د افغانستان اسلامي امارت او په ځانګړې ډول د افغانستان بانک سالمې رهبرۍ د خپلو معقولو هلو ځلو پر مټ وکړای شوی، چې رامنځته شوی وضعيت په تدريج سره په خپل کنټرول کې راولي. دغه وضعيت د ۱۴۰۰ کال په پرتله په ۱۴۰۱ کې ښه شو او ۱۴۰۲ کال کې بيا تقريباً نورمال حالت ته را وګرځېد. په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د افغانستان بانک وتوانېد چې د ۱۴۰۱ لمريز کال په پرتله د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ساتلو، پر امانتونو د محدوديتونو راکمولو، د اسلامي بانکوالۍ د پراختيا، د برېښنايي بانکوالۍ د ترويج، بازار ته د نويو بانک‌نوټونو د تزريق او د زړو راټولولو، انفلاسيون او په نويو حسابونو د محدوديتونو نشتون په برخو کې مؤثر ګامونه اوچت کړي. موږ په همدې مقاله کې په پورته ذکر شوو برخو کې د افغانستان بانک له لوري ترسره شوو هڅو ته لنډه کتنه کوو.

## د افغانۍ ارزښت

واک ته د اسلامي امارت له رسېدو او په افغانستان کې له يو لوی سياسي بدلون را وروسته په لومړيو وختونو کې افغانۍ د بهرنيو اسعارو په ځانګړې توګه د ډالر پر وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکړ. سياسي بدلون، پر اسلامي امارت د نړيوالو له لوري بانکي، اقتصادي او سوداګريز محدوديتونه، د بشري مرستو ځنډېدل او افغانستان ته د ډالرو کم راتلل د افغانيو د ارزښت د راټيټېدو اصلي لاملونه بلل کېدل، ان داسې چې د ۲۰۲۲ ميلادي کال د جنورۍ مياشتې په وروستيو کې د يو امريکايي ډالر بيه ۱۲۷ افغانيو ته ورسېده. خو د افغانستان بانک د معقولو پولي سياستونو په پلي کولو سره وتوانېد چې په تدريج سره دغه بيه ښرته ۹۰ له هغه وروسته ۸۷ او اوسمهال ۷۱ ته راښکته کړي .

د افغانستان بانک وايي، د ۱۴۰۱ لمريز کال په پرتله په ۱۴۰۲ لمريز کال کې افغانۍ د بهرنيو اسعارو په ځانګړې ډول د ډالرو پر وړاندې ۱۷،۸۲ سلنه ارزښت پيدا کړی دی. دا مهال افغانۍ په نړيواله کچه د غوره ثبات لرونکو پولي واحدونو په قطار کې ده او د بهرنيو اسعارو پر وړاندې يې ارزښت د پام وړ زيات شوی دی.

## انفلاسيون

انفلاسيون يا د پيسو پړسوب چې په عمومي او دوامداره توګه د بيو لوړوالي ته وايي، د کنټرول لپاره يې په تېر ۱۴۰۲ لمريز کال کې د افغانستان بانک له لوري مؤثر ګامونه اخيستل شوي دي. د اسلامي امارت په بياځلي واکمنېدو سره افغانستان کې سرتاسري امنيت تأمين شوی چې هم‌مهاله ورسره کورني توليد، صنعت او کرنې د پام وړ وده کړې ده. د نړيوال بانک د راپورونو پر اساس، د تېرو دوه لسيزو په جريان کې په افغانستان کې په دوامداره توګه د توکو بيې لوړې شوې دي چې مهم علت يې د وارداتو زياتوالی او د کورنيو توليداتو کموالی په ګوته شوی، خو په تېرو څه کم درېيو کلونو کې چې اسلامي امارت د هېواد واګې په لاس کې اخيستې، هڅه کوي چې د کورنيو توليداتو اندازه زياته کړي، تر څو د وارداتو اندازه کمه او د صادراتو هغه بيا زياته شي. د افغانستان بانک وايي، دغه بانک د افغانۍ په ارزښت ساتلو سره توانېدلی دی چې د انفلاسيون نرخ په مطلوب حد کې وساتي. د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۴۰۰ لمريز کال کې د انفلاسيون نرخ ۲،۹۸ و، خو د ۱۴۰۲ لمريز کال پر مهال بيا د افغانستان بانک د معقولو پولي سياستونو په پلي کولو سره وتوانېد چې د انفلاسيون نرخ په تدريجي ډول له دوه رقمي حالت څخه منفي ۴،۸۶ ته راکم کړي .



هفته نامه
آبادي اوونيزه
ABADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

## پر نويو حسابونو د محدوديت نشتون

د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه تل هڅه کړې ده چې د هېوادوالو لپاره په ټولو مالي او بانکي برخو کې غوره خدمتونه وړاندې کړي. په همدې موخه د افغانستان بانک په سوداګريزو بانکونو کې په ټولو هغو حسابونو چې نوي پرانيستل کېږي، هر ډول محدوديتونه لرې کړي او هغه کسان چې نوي حسابونه پرانيزي، هر وخت چې وغواړي له خپلو حسابونو څخه هرڅومره چې اړتيا وي، پيسې ترلاسه کولای شي. همدارنګه پر پخوانيو حسابونو هم محدوديتونه راکم شوي دي او دا مهال هېوادوال کولی شي د پخوا په پرتله له خپلو حسابونو څخه ډېرې پيسې ترلاسه کړي. د افغانستان بانک وايي، په سوداګريزو بانکونو کې د محدوديتونو دا کچه په لومړيو وختونو کې د امريکايي ډالرو حساب لرونکو لپاره په اونۍ کې ۲۰۰ امريکايي ډالر او د افغانۍ حساب لرونکو لپاره په اونۍ کې ۲۰ زره افغانۍ وه، چې د نسبي امکاناتو په برابرېدو سره دا کچه ۴۰۰ امريکايي ډالرو او ۳۰ زرو افغانيو ته لوړه شوه. د افغانستان بانک په دې برخه کې مشتريانو ته د اسانتياوو برابرولو په موخه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړ او دا کچه يې ۶۰۰ امريکايي ډالرو او ۵۰ زرو افغانيو ته ورسوله او که چېرې د پېرودونکو غوښتنې په مياشتنۍ ډول ترسره شي، کچه يې دوه زره امريکايي ډالرو او ۵۰۰ زره افغانۍ ټاکل شوې، چې له دې مخکې دا کچه ۱۲۰۰ امريکايي ډالر او ۱۰۰ زره افغانۍ ټاکل شوې وه .

## د نويو بانکنوټونو چاپول

د اسلامي امارت تر بيا خلي واکمنېدو وروسته، نړيوالې ټولنې په ډېرى برخو کې بنديزونه وضع کړل، خو له بنديزونو سره سره د افغانستان بانک د نړۍ له هېوادونو او نړيوالو سازمانونو سره له تخنيکي بحثونو وروسته وتوانېد چې نوي بانکنوټونه چاپ کړي. د افغانستان بانک د خپلو پولي سياستونو او په دغه برخه کې د شته کړنلارې پر بنسټ نوي بانکنوټونه بازار ته وړاندې کړل او ۵,۲ ميلياردە مندرس او زاړه بانکنوټونه يې له مرکز او ولايتونو څخه راټول او وسوځول. په دې سره زاړه بانکنوټونه له ګردش څخه و ايستل شول او د راکړې ورکړې پر مهال هېوادوالو ته د اسانتياوو برابرولو په موخه نوي هغه وړاندې شول .

د نويو بانکنوټونو پر چاپ او د زړو هغو پر راټولولو سربېره د افغانستان بانک د ۱۴۰۲ لمريز کال پر مهال په لرې پرتو سيمو کې بانکي خدمتونو ته د لاسرسي په موخه نوې بانکي څانګې پرانيستې او د دې ترڅنګ يې د تضمينونو په اجراآتو کې هم پرمختګ وکړ.

## د اسلامي بانکوالۍ پراختيا

اسلامي بانکوالي اوسمهال د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې د پراختيا په حال کې ده او د بشپړ خونديتوب درلودلو ترڅنګ د شريعت له حکمونو سره برابره ده، د افغانستان بانک په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختيا او لا زياتې ودې لپاره اغېزناکې هڅې پيل کړې دي. د اسلامي بانکوالۍ د پراختيا په موخه د افغانستان بانک د کوچنيو پورونو لومړني بانک د اسلامي پورونو ټول اسناد د افغانستان بانک شرعي بورډ لخوا تصويب شوي دي او دغه بانک په بشپړ ډول اسلامي شو. دې بانک د اسلامي پورونو د ورکړې فعاليت هم پيل کړی دی.

د اسلامي بانکوالۍ د ترويج او اسلامي هېوادونو له تجربو څخه د ګټې اخيستنې په موخه په بحرين کې د اسلامي مالي ادارو د محاسبې او تفتيش د مؤسسې د نړيوالې اداري AAOIFI سره د تفاهم نامې د لاسليک اړوند کارونه هم نهايي شوي دي. د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو لوی آمر ښاغلي ډاکټر محمد يوسف سليم د ۱۴۰۲ لمريز کال د حمل مياشتې په ۱۶مه نېټه د حکومت رسنيو مرکز په يو خبري کنفرانس کې د خپلو خبرو پر مهال په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ پراختيا او پرمختيا يوه بنسټيزه اړتيا وبلله او زياته يې کړه، چې د افغانستان بانک د تېر کال په اوږدو کې اغېزناکې هڅې کړې چې له ډلې يې کولای شو د صکوکو د قانون د لومړني مسودې چمتو کولو، په اسلامي بانک د کوچنيو پورونو د لومړني بانک بدلولو او د اسلامي بانکوالۍ محصولاتو ته د څو لارښودونو او کړنلارو نهايي کولو ته اشاره وکړو.

## د غير بانکي سکتور کړنې

غير بانکي سکتور د بانکوالۍ د سکتور ترڅنګ له ځانګړې اهميت څخه برخمن دی او د صرافيو، پولي خدمتونو وړاندې کوونکو، د برېښنايي پيسو د مالي اجارې او د اداينې مؤسسو کړنې رانغاړي. د تېر ۱۴۰۲ لمريز کال پر مهال د دې سکتور د کړنو د تنظيم او ميکانيزه کولو لپاره د افغانستان بانک له لوري زياتې هڅې شوي دي. د افغانستان بانک د غير بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمر ښاغلي احمد ظاهر ناصرزي د صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د کړنو ميکانيزه کول مهم وګڼل او زياته يې کړه، چې دا پرېکړه د ياد سکتور د ښه والي او رونتيا په موخه د نوو شرايطو په وضع کولو او د حقوقي جوړښت بدلولو ته په پاملرنې سره شوې ده چې له مخې يې ټول انفرادي جوازونه لغوه او تر دې دمه د صرافۍ او پولي خدمتونو ۱۰۷۶ شرکتي جوازونه په هېواد کې صادر شوي دي. همدارنګه، يادو شرکتونو شاوخوا ۳۸۹ نمايندګۍ جوړې کړې دي. له دې وروسته صرافۍ او پولي خدمتونه د مالي غير بانکي اداري په توګه د برېښنايي سيستم په درلودلو او د ملي او نړيوالو معيارونو په رعايتولو سره د صرافۍ او پولي خدمتونو فعاليتونه وړاندې کوي .



## پايله

۱۴۰۲ لمريز کال د افغانستان بانک او په ټوله کې د هېواد د بانکي سيستم لپاره له لاسته راوړنو ډک کال و. د دغه کال پر مهال د افغانستان بانک د معقولو پولي سياستونو په تطبيق سره وتوانېد، چې افغانۍ د بهرنيو اسعارو پر وړاندې خپل ارزښت وساتي، انفلاسيون په خپله مطلوبه کچه کې کنترول شي، په بانکونو کې د نغدينګۍ ستونزه حل شي، په اېښودل شوو امانتونو وضعه شوي محدوديتونه د پام وړ راښکته، په نويو حسابونو هېڅ محدوديت وضع نشي، نوي بانکنوټونه چاپ او زاړه راټول شي، اسلامي بانکوالي پراختيا پيدا کړي، د غير بانکي سکتور کړنې کنترول شي، لرې پرتو سيمو ته بانکي خدمات ورسېږي، په ټول هېواد کې راکړه ورکړه په افغانۍ ترسره شي، د برېښنايي بانکوالۍ په برخه کې د پام وړ مؤثر ګامونه واخيستل شي، د تضمينونو په اجراء کې پرمختګ رامنځته شي او د نړيوالو له لوري د افغانستان بانک ترړل شوي سيستمونه تر پخوا ښه او له نړيوالو معيارونو سره سم ورغول شي.

پورته لاسته راوړنو ته په کتو سره ويلی شو، چې ۱۴۰۲ لمريز کال د افغانستان بانک او په ټوله کې د هېواد د بانکي سيستم لپاره له لاسته راوړنو ډک کال و.